PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونيزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

روژه هغه میاشت ده چې په دې کې هغه قرآن نازل شوې دی چې د خلکو لپاره لارښود او د لارښوونې او د حق او باطل ترمنځ د جلاوالي څرګند دلایل دي. نو څوک چې له تاسې څخه دا میاشت ومومي، نو روژه دې ونیسي. او څوک چې ناروغ یا پر سفر وي نو شمیر دې له نورو ورځو څخه پوره کړي. الله پاک ستاسې لپاره آسانتیا غواړي نه سختي. (البقره: ۱۸۵)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که رمضان را از روی ایمان و اخلاص روزه گیرد، گناه گذشته اش آمرزیده می شود
(ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۱۲ مه ګڼه، پرله پسې ۲۱۵ مه ګڼه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د چنګاښ ۲۲ مه د۱۴۳۴ هـ ق د رمضان المبارک ۴ مه د۲۰۱۳ م د جولای ۱۳ مه

اخوان المسلمین:

تا مرسی بقدرت برنگردد تظاهرات ادامه دارد

مصر، رسانه ها:
سرنگونی هفته گذشته محمد مرسی توسط اردو، باعث عمیق شدن اختلافات و شعله ور شدن تصادمات خونین در مصر این کشور پر جمعیت ترین جهان عرب شده است. حزب با نفوذ اخوان المسلمین محمد مرسی گفته است به تظاهرات شان تا زمانی ادامه خواهند که مرسی دوباره بقدرت بر گردد.

مخالفین مرسی هم گفته اند که در اولین روز جمعه ماه رمضان دست به تظاهرات میزنند بشمول تهیه افطار شام در میدان تحریر قاهره.

از جانبی صدراعظم جدید مصر بروز پنجشنبه شمولیت اعضای اخوان المسلمین را در کابینه جدید رد نکرد. حازم البیلاوی که روز سه شنبه بحیث صدراعظم جدید مصر تعین گردیده در یک مصاحبه تلفونی به آژانس خبری فرانس پرس گفته است، من وابستگی های سیاسی را در نظر نمی گیرم. برای تعین اعضای حکومت جدید، دو معیار در نظر گرفته می شود. کفایت و اعتبار.

اما اخوان المسلمین قبلاً تقاضای البیلاوی را مبنی بر

بقیه در صفحه ۴

جېمز ډابنز:

د سولې په خبرو کې د چټک پرمختګ تمه نه لرو

د امریکا هدف دا نه دی چې د سولې خبرې ترسره کړي بلکې هدف دا دی چې په افغانستان کې د سولې له بهیر سره مرسته وکړي

د اختلافونو سره سره به د سولې خبرې بیابیل شي خو دا چې څه وخت تراوسه معلومه نه ده

کابل، رسنۍ:
د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړی استازی وایي، دی په افغانستان کې د سولې په خبرو کې د چټک پرمختګ تمه نه لري.

جېمز ډابنز دا څرګندونې د امریکا د سنا د نړیوالو اړیکو د کمیټې غونډې ته چې پرون جوړه شوې وه د وینا پرمهال وکړې.

مخکې له دې د افغانستان لپاره د اروپایي ټولنې ځانګړي استازي ویلي و، چې شایي د افغانستان د سولې هڅې تر ۲۰۱۵ کاله نتیجه ورنکړي.

د افغانستان او پاکستان لپاره د سیمې ماتې

پاتې ۴ مخ

تصمیم خروج و باقی ماندن نیروهای امریکایی در دست کرزی می باشد

واشنگتن، رسانه ها:
سناتوران امریکایی می گویند، که فیصلهٔ خروج و یا باقی ماندن عساکرامریکایی بعد از سال ۲۰۱۴ در افغانستان در دست رییس جمهور حامد کرزی می باشد.
سناتوران امریکایی این مطلب را روز گذشته در یک نشست استماعیه کانگریس بیان داشته اند.

سناتور رابرت مینیندز از اظهارات اخیر رییس جمهور کرزی در خصوص باقی ماندن نیروهای امریکایی و سند امنیتی انتقاد نموده گفته است، که باید حامد کرزی تصمیمی مبنی بر این که می خواهد با امریکا روابط دراز مدت امنیتی و استراتیژیک داشته باشد یا خیر، اتخاذ نماید.

رییس جمهور کرزی در اعتراض با شیوهٔ باز شدن دفتر طالبان...

بقیه در صفحه ۴

امریکا یک مرکز نظامی را که به هزینهٔ ۳۴ ملیون دالر اعمار شده تخریب میکند

کابل، رسانه ها:
امریکا میخواهد یک مرکز نظامی در ولایت هلمند را که بالای آن حدود ۳۴ میلیون دالر مصرف شده است، قبل از بهره برداری از بین ببرد.

این مرکز نظامی در هلمند، برای نیروهای بحری (مرین) اعمار گردیده؛ اما نیروهای یادشده قبل از این که به این مرکز بیایند، به کشور خود بر گشته اند.

ادارهٔ مفتش خاص امریکا روز گذشته گفت: احتمال زیاد وجود دارد که این

بقیه در صفحه ۴

کارپوهان:

د ملي شورا ځینې غړي د خپل پارلماني مصونیته ناوړه ګټه اخلي

د ملي شورا ځینې غړي د اساسي قانون مادې په خپله ګټه تعبیروي.

پارلماني مصوّنیت د وکیل لپاره بوازې توقیف په برخه کې دی او مصوّنیت د معافیت معنا نلري

کابل، رسنۍ:
د مدني ټولنو یو شمېر فعالان او د حقوقي چارو کارپوهان وایي، چې د ملي شورا ځینې غړي د خپل پارلماني مصونیت څخه ناوړه ګټه اخلي.

دوی وایي، چې په وروستیو کې د یو شمېر وکیلانو د غیرقانوني اعمالو شاهد و، خو عدلي او قضایي ارګانونه نه دي توانیدلي چې؛ دوی ونیسي.

په همدې حال کې د کابل ښار یو شمیراوسیدونکي وایي...

پاتې ۴ مخ

روژه د څه له پاره ؟!

محمد خلیل

د لوی الله جل جلاله ټول کارونه په حکمت بنا دي او په هر څه کې دخپلو بنده ګانو خیر ښېګڼه په نظر کې نیول شوی. هر کال چې پر مؤمنانو روژه فرض ګرځول شوې په دې کې هم لوی الله دا غټ حکمت په ګوته کړی چې د روژو د نیولو له کبله په مؤمنانو کې تقوی او پرهیزګاري پیدا کېږي، لکه چې د البقرې په ۱۸۳ کې داسې راغلي دي؛

ژباړه: ای مؤمنانو! پر تاسو روژه فرض کړی شوې ده لکه څنګه چې له ستاسې نه وړاندې پر امتونو فرض کړی شوې وه تر څو تاسې پرهیزګاره شئ.

د الله تعالی له دغه پوتني لارښوونې نه دا ترلاسه شوه چې د روژو نیولو اصل مقصد تقوا ترلاسه کول دي، یعنې روژه په مؤمنانو کې د تقوا د ترلاسه کولو یوه لویه ذریعه ده، لکه څنګه چې فصل ته د اوبو ورکولو له لارې میوې دانې ترلاسه کېږي او انسانانو ته د خوراک، څښاک توکي پیدا کېږي، بالکل همداسې د روژې له کبله په مؤمن کې د تقوی جرړې مضبوطېږي او له ټولو شیطاني کړنو څخه یې ساتي.

د تقوی معنی او مفهوم دا دی چې یو مؤمن په هر کار کې یوازې او یوازې له الله نه ویره وکړي او ...

پاتې ۴ مخ

مصر و کودتای دموکراسی

(نورین غلام سخی) - صفحه دوم

ملاله یوسفزی به د ملګرو ملتونو په مقر کې وینا وکړي

کابل، رسنۍ:
ملاله یوسفزی چې په سوات کې د وسله والو طالبانو له خوا په ډزو کې سخته ټپي شوې وه او په بریتانیا کې له اوږدې درملنې وروسته د انجونو د تعلیم او زده کړې د کمپاین په یوې نړیوالې مبارزې څېرې بدله شوې، نن به په نیویارک کې د ملګرو ملتونو په مقر کې د خپلې زیږېدنې د ۱۶ مې کالیزې پر مهال یوه مهمه وینا وکړي او خپل هوډ به یو ځل بیا تازه کړي.

نهه میاشتې وړاندې وسله والو طالبانو په سوات کې خوانه ملاله ښوونځي ته د تلو پر مهال په سر کې په ګولۍ ویشتله او هڅه یې وکړه

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپیڅلي نامه

مور باید خپل غم پخپله وخورو

امریکا او ناټو هېوادونه افغانستان ته د افغانانو په خوښه نه، بلکې پخپله خوښه راغلي دي، دا چې په ۲۰۱۵ کال کې اوځي افغانان یې په زوره نشي ایسارولي، هغوی اصلاً د افغانانو د گټو پرځای دخپلو گټو د تأمین په خاطر راغلي وو، نه یې مخکې د افغانانو گټې په نظر کې نیولې وې او نه وروسته څه تصمیم لري. کیدای شي خپل اهداف یې ترلاسه کړې وي او یابې هم نه وي ترلاسه کړي خو د وتلو او نه وتلو په صورت کې خپلې گټې ورته مهمې دي، که په پاتې کېدو کې یې گټې ډیرې وي نو خامخا پاتې کېږي، او که په تللو کې یې ډیرې گټې وي نو بیا نه د افغانانو خپگان ته گوري او نه خوشحالي ته، بلکې خپله خوښه کوي، د افغانانو کار دا نه دی چې دهغوی پر وتلو غمونه وکړي او د خپلې راتلونکې په اړه د اندیښنو په ډنډ کې ډوب شي، بې حوصلې او بې همته شي او د یو لاچار معذور انسان په څېر لاس تر زنې کیني، په دې نړۍ کې هر څوک د یو محدود هېواد مالک دی او هر یو مسؤول دی چې د خپل هېواد او ولس د خدمت او دفاع مسؤولیت پخپله پر غاړه واخلي، افغانان هم د خپل سپیڅلی دین له مخې مسؤولیت لري چې د نورو هېوادو د ولسونو په څېر د خپلې خاورې او ولس د پرمختگ او ښېگړې له پاره د عمل ډگر ته ودانگي، پکار خو دا و چې مور له ډېر پخوا نه د خپل هېواد او ولس د خیر ښېگړې او استحکام لپاره له بل هر چا زیات کار کړی وای او د کمزورۍ داسې حالت مو نه وای پیدا کړی چې افغانستان د پردیو د مداخلو او تمرینونو داسې ډگر وگرځي چې هر څوک راشي او دلته د خپلو شومو اغراضو د پلي کولو مشق وکړي، دا چې تر ننه هر څه وشول ددې ټولو مسؤولیت زمور پر غاړه دی. اوس پوښتنه داده چې آیا مور له خپل ماضي او تېر تاریخ نه داسې کوم عبرت ترلاسه کړی چې راتلونکی لپاره افغانستان یو ځل بیا د نورو هېوادو د مداخلې ډگرونه گرځي؟!

له دې مسلم واقعیت نه هېڅوک سترگې نشي پټولې چې تراوسه پورې څومره کړاوونه او بلاگانې د افغانستان پر وگړو مسلط شوي دي په دې کې د افغانانو غفلت، د مسؤولیت نه احساس او بې اتفاقي ستر رول لري، که دغه نیمگړتیاوې راتلونکی لپاره هم د پخوا په څېر پاتې وي او ډکولو لپاره یې عملي گامونه اوچت نه کړی شي نو لیرې نه ده چې په راتلونکی وخت کې لدینه هم له بد حالت سره مخامخ شوو، د تېر تاریخ نه د عبرت درس په ترلاسه کولو د افغانانو اسلامي او ملي مسؤولیت دادی چې د یو خوددار او غیرتي قوم په توگه پر خپلو ټولو کړاوونو، ستونزو او نیمگړتیاو د قابو موندلو لپاره پخپلو کې سره جرگه شي او د نورو د اوږو د بار جوړېدو پرځای پرخپلو پښو د ودرېدو کلک عزم وکړي. افغانان دومره بې پښو او بې لاسو نه دي چې تل نورو ته د گدایي کچکول ونیسي، الحمدلله د افغانستان خاوره له الهي نعمتونو څخه ډکه او معموره ده. دومره وسایل او قیمتي زیرمې لري چې پخپلو پښو ودرېږي، د افغانستان وگړي هم د ژوند په هر ډگر کې دومره قابلیت او استعداد لري چې دخپلو وسایلو پر مټ د خپلې خاورې د پولو کلکه دفاع وکړي خو دا هر څه ملي یووالي، غښتلي عزم، اخلاص او سوچه مینې ته اړتیا لري، که چېرته افغانان خپلمنځي اختلافات ژر تر ژره شاته وغورځوي او د خپل هېواد د جوړولو په موخه پخپلو کې سره جرگه شي نو هېڅ شک نشته چې افغانان به په دې سیمه کې د عزت آبرو او استقلال ژوند خاوندان، او د نورو له لاسوهنو څخه نجات ترلاسه کړي، د یو مرکزي حکومت او ملي یووالي په لرلو به نور هېوادونه په افغانستان کې د مداخلو پرځای له افغانانو سره د بین المللي اصولو مطابق تړونونه وکړي او له همدې لارې به افغانستان خپل ټول مقاصد ترلاسه او تل لپاره به د پردیو د مداخلو او لاسوهنو څخه خلاصون بیامومي.

د افغانانو دائمي گټه په دې کې ده چې د امریکا او ناټو ځواکونو پر وتلو د اندېښنو پرځای د خپل مستقبل په اړه ژر تر ژره پخپلو کې سره راغونډ او لدې وروسته خپل هېواد د نورو دښمنانو د لاسوهنو او مداخلو څخه د ساتنې په خاطر د اتفاق او یووالي په فولادي صف کې ودرېږي.

له دې پرته ټولې هلې ځلې موقتي او مقطعي دي او د افغانانو هېڅ مشکل ورباندې نه حلېږي، ښه به دا وي چې افغانان هغه پایداره او بنستیزه لاره خپله کړی چې د افغانستان د دائمي ستونزو حل پکې مضمر وي او دا لاره د افغانانو خپلمنځي یووالي او په گډه په یو غښتلی صف کې د ودرېدو لاره ده، تر څو پورې چې افغانانو دغه اصل ته رجوع نه وي کړې او خپل دغه تشه یې نه وي ډکه کړې نه یوازې د سوکالۍ، امن، عزت او آزاد ژوند ارمان به یې پوره نه شي بلکې لدینه زیات به له غمونو او کړاوونو سره لاس او گریوان کېږي.

تورن غلام سخی

مصر و کودتای دموکراسی

چهار سال قبل کشورهای عربی اطراف بحیره مدیترانه دچار بحٌران سیاسی گردیدند، تحولات بزرگ در این کشورها رونما گردید که آغاز آن از کشور تونس بود که در آن کشور نظام خودکامه و مستبد ذین العابدین بن علی سرنگون گردید، و مردم توانستند این عملیه تغییر نظام را با تحمل قربانیهایی بیدریغ اجرا نمایند، در تغییر و تحول نظام سرنگون شده بن علی نقش احزاب اسلامی نسبت به احزاب سیکولر و لیبرال قوی تر و برجسته تر بود، این تحولات عمیق که بواسطه مردم کشور تونس صورت پذیرفت، سیاست گذاران و نظریه پردازان آنرا بنام (بهار عرب) نامیدند، این بهار از تونس آغاز و آرام، آرام بسوی کشور لیبیا کشانده شد، که در نتیجه معمر القذافی دیکتاتور چپ گرا و سوسیالیست لیبیایی بقتل رسید، جنگ های داخلی در این کشور تا حال دوام دارد، تکانهای بهار عرب استکان نپذیرفت، موج های عظیم آن بطرف کشور مصر سرازیر گردید، کشورهای مانند بحرین و یمن هم از اثرات این بهار بی بهره نماند، که حال هم شورش و اغتشاش مردم در برابر این دولت ها ادامه دارد، در بعضی از این کشورها نظام های طاغوتی سرنگون و در بعضی آن در شرف سقوط قرار دارد.

سرزمین بزرگ اسلامی مصر که از دوران خلیفه دوم به اینطرف اسلام در آن حکومت نموده، مرکز تمدن و فرهنگ اسلامی در طول اعصار گذشته شناخته شده، سابقه تاریخی ده هزار ساله داشته و بزرگترین مهد تمدن بشری بوده، که ما تمدن رود نیل را در تاریخ بوضوع مشاهده نموده ایم، زمانی مصر و سوریه بنام کشور متحده عربی مصر نامیده می شدند، مصر با داشتن تاریخ، تمدن و فرهنگ بزرگترین و قوی ترین دولتی است در شمال افریقا و در منطقه جزیرة العرب، که از یک ارتش منظم و قوی برخوردار است. یگانه مملکتی است که رقیب بزرگ اسرائیل در منطقه بشمار میرود، مردم مسلمان مصر همیشه مدافع برحق خواستهای سرزنیهای اسلامی بخصوص در منطقه جزیرة العرب بوده اند و همیشه در برابر توطئه های خائنانه بین المللی که شیرازه وحدت کشورهای عربی را دریده است ایستادگی و مقاومت نموده اند. نهضت اخوان المسلمین پرچمدار این قیادت در سرزمین مصر بواسطه حسن البناً بنیان گذاری شد، تحت رهبری آنمرد بزرگ ارتش اسرائیل تلفات سنگین را متحمل گردید، مگر نظام دار سیکولر مصر جمال عبدالناصر که خود بواسطه طرفدران نهضت اخوان المسلمین بقدرت رسیده بود، سد راه این حرکت جهانی اسلامی گردید، ما حملات اسرائیل را بالای کمپ های صابرا و شتیلا بیاد داریم، که با قساوت و بیرحمی مردم بیدفاع فلسطینی را چطور به شکل فجعیانه قتل عام نمودند، با روی کار آمدن ناصر در صحنه سیاست نه تنها مصر نه توانست در برابر اسرائیل مقاومت کند، بلکه بعضی از مناطق خود را نیز از دست داد، حتی ناصر به کمک سائر کشورهای عربی نتوانست در برابر اسرائیل مقاومت کند، گرچه ناصر اندیشه چپی داشت و با شورویها از روابط دوستانه خوب برخوردار بود، با وصف آن نتوانست در منطقه کشور کوچک مثل اسرائیل را شکست بدهد، بدیهی است که کشورهای بزرگ چون مصر، سوریه، اردن، فلسطین حتی عربستان سعودی نتوانستند که ارتش اسرائیل را از صحرائی سینا پیرون کنند، بخاطریکه در عقب پرده کشورهای غربی بخصوص ایالت متحده امریکا از اسرائیل بمثابه سرطان خونین در قلب عربها دفاع می نمود، نمیگذارند این کشور اشغالگر که سرزمین مقدس فلسطین و اولین قبله مسلمانان را اشغال نموده، بشکست مواجه شود، عوامل اصلی ظهور بهار عرب فقط نقش ژاندرم منطقه بدست اسرائیل است، تا بواسطه نامگذاری ها و القاب مختلف کشورهای استعماری غرب که بخاطر ناآرامی و نفاق افگنی در بین کشورهای مسلمان بنام Road Map یا (نقشه راه) را در سر دارند، مطلوب و مفهوم این نقشه انداختن تفرقه و ایجاد جنگلهای داخلی و تداوم آن در این سرزمین ها چیزی دیگری نیست، تا بواسطه آن بتوانند تمام تمدن، تأسیسات زیربنایی، منابع تولیدی، امکانات طبیعی و قوتهای نظامی آنها را منهدم و اسرائیل را بشکل ستاره درخشان مشتعل در آسمان عربها به نمایش درآورند، تا بواسطه نظام اشغالگر، غاصب و مستبد اسرائیل که هر روز ده ها طفل و نوجوان فلسطینی را به قتل میرسانند، مناطق شانرا اشغال و خانه های شانرا با سیم خاردار ببندند، امیال و پلان های شوم و تاریخی که دارند، سرزمینهای اسلامی را یکی پی دیگری از صحنه گیتی محوه و یا اینکه عروسک های دست نشانده خود را به سرنوشت ملت های مسلمان حاکم بسازند، ما نمونهٔ آن را از آغاز حکمروایی جمال ناصر، انور السادات تا ختم انقلاب مردم مصر و محاکمه حسنی مبارک (فرعون) بدست آنمردم گفته میتوانیم. انقلاب که از میدان تحریر شروع و تمام شهرهای بزرگ مصر را دربر گرفت و هزارها قربانی از خود بجا گذاشت. بالآخره انقلاب بنام تأمین نظام دموکراسی در مصر به پیروزی رسید و عامل اصلی این پیروزی همانا جوانان مسلمان بودند که در طول حکمروایی ناصر تا مبارک پدران و بزرگان و اقارب و دوستان خویش را از دست داده بودند، با مقاومت سرسختانه گروه های اسلامی بخصوص حزب اخوان المسلمین در برابر ارتش مبارک، انقلاب به پیروزی رسید، بالاخره مصریها متحدانه خواستار نظام دموکراتیک نوین در کشور شان شدند، که مطابق به سنت دموکراسی انتخابات از طریق ارتشیان مصری بشکل دموکراتیک شفاف و عادلانه براه انداخته شد. کاندیدهای از دو طرف به صحنه پیکارهای سیاسی و انتخاباتی حضور مبهم رسانیدند، که در نتیجه آغای محمد مرسی کاندیدای گروه ها و احزاب اسلامی با گرفتن بیش از پنجاه فیصد بصفت اولین رئیس جمهور منتخب در مصر بعد از حکومت هفتاد ساله ظلم و اختناق وحشت و ترور، حلف وفاداری را بخاطر خدمت صادقانه بمردم مصر انجام داد. انتخابات پارلمانی را براه انداخت، که اکثریت کرسی های پارلمان بدست اخوان المسلمین افتاد، این همه مطابق به خواست دموکراسی و با شفافیت کامل برگذار گردید، محمد مرسی که خود حافظ قرآن و دکتورا در علوم اسلامی دارد، خواستار تعدیلات در قانون اساسی گردید که به شدت از طرف هواداران نظام سیکولار مورد تهدید قرار گرفت، رئیس جمهور منتخب محمد مرسی بخاطر جلوگیری از شورشهای بیشتر و بحران اقتصادی و سیاسی در مصر به خواستهای مخالفین جواب مثبت داده و از تعدیل قانون صرف نظر نمود، مگر دست های استعماری عقب پرده ها که ناظر تحولات مصر بودند، از تشکیل یک حکومت قوی اسلامی که آنهم در رأس آن اخوان المسلمین باشد، متردد و خایف بودند، برنامه های را که مرسی میخواست تطبیق نمایند، با ابراز تشویش و سونیات به آن می نگریستند، نخواستند که نظام عدل و مطابق اراده مردم مسلمان مصر در آن کشور استحکام پذیرد، توطئه ها قوی تر گردید، تا اینکه بخاطر فروپاشی نظام نوپای اسلامی محمد مرسی، تشنجات در هر گوشه مملکت بخاطر سقوط نظام آغاز گردید، و بسرعت ائتلافات نامقدس قبطی های مسیحی، سیکولرها، تکنوکراتها و گروه سلفی النور صورت گرفت، محمد مرسی در برابر این هیجانات از خود مقاومت نشان میداد، مگر شورشها تا دروازه گارد ریاست جمهوری به حمایه ارتش مصر رسید، ارتش زمام امور را بدست گرفته و محمد مرسی را از قدرت برکنار و آنرا با سه صد تن از افراد بلندپایه اخوان المسلمین بازداشت نمود، فرمانده ارتش عبدالفتاح سینوسی که خود از طرف محمد مرسی رئیس جمهور منتخب مصر به این سمت برگزیده شده بود، در برابر دولت و حکومت رئیس جمهور منتخب، محمد مرسی دکتور و حافظ قرآن کودتا نظامی را براه انداخت. کودتا فوراً از طرف کشورهای چون سعودی، امارات و قطر بنام حکومت انتقالی و اعاده دموکراسی در مصر مورد استقبال قرار گرفت و آماده کمک هشت میلیارد دالری به این کشور گردیدند، اتحادیه کشورهای افریقایی در برابر این تحول غیر دموکراتیک و کودتاه نظامی عکس العمل شدید نشان داده و عضویت مصر را به تعلیق درآورد، سازمان عفوه بین المللی کودتا را محکوم و ترکیه و تونس با لحن شدید این کودتاه را تقبیح نمودند و خواستار اعاده نظم، قانون و آزادی محمد مرسی و کرسی ریاست جمهوری آن گردیدند، وزارت خارجه مصر در پاسخ به این خواست علی الفور سفیر ترکیه و تونس را احضار و مراتب نارضایتی کودتاچیان را بر آنها اظهار نمود، روسیه هم به نوبه خود کودتا را محکوم و خواستار آمدن دوباره رئیس جمهور منتخب به وظیفه گردید، کشورهای غربی محتاطانه حرکت نموده و خواستار اشتراک همه مردم مصر بخاطر انتخابات ریاست جمهوری و اعاده دموکراسی در مصر گردیدند، ایالت متحده امریکا ابراز تشویش خود را نسبت به این کودتا نشان داد، و مطابق قانون امریکا اگر یک نظام انتخابی ذریعه کودتای از بین میرود باید تمام کمکهای نظامی و اقتصادی امریکا متوقف گردد، اما امریکائیها محتاطانه نسبت به این قانون عکس العمل نشان داده حتی سخنگوی کاخ سفید گفت: ما در صورتیکه بعد از بررسی ها عمل ارتش را کودتا ارزیابی نمائیم به این قانون عمل خواهیم نمود، با وجود آنهم اعلان کمک چند صد میلیون دالری را به مصر نمودند، کشورهای دیگری اسلامی نسبت به این کودتا عکس العمل از خود نشان نداده. بشارالاسد حاکم نظامی و مستبد سوریه که خود از حزب بعث و یکی از سرسخت ترین دشمنان اخوان المسلمین در منطقه است، از اینکه کودتا را محکوم و آنرا تخلف از نظام دموکراسی بداند...

(بقیه در صفحه سوم)

روژه دڅه له پاره؟!

(د لومړی مخ پاتې برخه)

...دهغه په زړه کې هر وخت یوازې د الله ویره ځای پرځای وي، کوم کارونه چې هغه جل جلاله حلال کړي او د کولو امر یې کړي هغه ترسره، او کوم کارونه یې چې حرام ګرځولي او له کولو نه یې منع فرمایلی له هغه نه په کلکه ډډه وکړي، له همدې ځایه معلومېږي چې الله تعالی د مؤمن او مسلمان تقوی ته له بل هر څه نه زیات اهمیت ورکړي او هغه ایمان معتبر او مقبول ګرځولی چې د تقوی په اوبو خړوبېږي، ګویا هغه ایمان بې نتیجې او بې اثر دی چې د تقوی نه خالي وي. که نه نو الله تعالی به له مؤمن نه د تقوی غوښتنه نه وه کړې. د لمونځ په باره کې هم الله جل جلاله پخپل سپېڅلي کتاب قرآن کریم کې فرمایلی دي چې: لمونځ انسان له فحشاو او منکراتو څخه ساتي، مطلب دا چې د لمونځ کولو لوی هدف هم همدا ټاکل شوې چې د الله له ویرې لمونځ کوونکې باید له فحشو او منکراتو څخه ډېر لیرې وي، ګویا هغه لمونځ چې د الله تعالی له ویرې کېږي دهغه لازمي نتیجه همدا مخې ته راځي چې دغه لمونځ ګذار د فحش او نورو ټولو حرامو کارونو ته مخه نشي کولې او کوم لمونځ ګذار چې د پنځه وخته لمونځونو د ادا کولو ترڅنګ بیا هم له فحشو او شیطاني کارونو څخه نه منع کېږي اصلاً د الله په دربار کې دهغه لمونځ نه دی قبول شوی، لکه څنګه چې د الله رسول محمد صلی الله علیه وسلم د مبارک حدیث مفهوم دی چې: کوم لمونځ ګذار له ګناه نه منع نه شي هغه دې په دې پوه شي چې دهغه لمونځ د الله په دربار کې نه دی قبول شوی، یعنې هغه په هغه روحیه لمونځ نه دی ادا کړی چې څنګه پکار و.

اصلاً په ۲۴ ساعتونو کې پنځه وخته لمونځ کول او د خپل رب په وړاندې ودرېدل له خپل خالق او مالک ذات سره ددې خبرې ژمنه او عهد کول دي چې یا الله زه ستا په وړاندې د خپل بندګي او غلامي اداب وړاندې کوم او په دې خبره عهد کوم چې زه د ژوندانه په ټولو کارونو کې یوازې او یوازې ستا منښه او اطاعت کوم، که چېرته یو لمونځ کوونکی واقعاً په همدې روحیه او په همدې نیت لمونځ وکړي نو له څه شک پرته دغه لمونځ کوونکی له لمونځ نه د فاروغېدو وروسته په نورو وختونو کې هم د بندګي پوره پوره احساس کوي او د خپلې ژمنې سره سم له هر ډول ګناهونو څخه ډډه کوي. همدغه شان کله چې یو مؤمن په ژبه د الله ذکر کوي او دهغه لویې او ثنا بیانوي دهغه مطلب هم همدا دی چې دغه شخص باید د ژوند په ټولو کړنو کې که هغه د ولسمشرۍ په تخت ناست وي او یا هم د قضأ، ولایت، ولسوالي او نورو مسندونو باندې هره شیبه او هره لمحه خپل ټول کارونه باید د الله تعالی له ویرې ترسره کړي او په هر کار کې دهغه لارښوونې په نظر کې ونیسي، نه دا چې په خوله خو د الله اکبر او لله الحمد الفاظ زمزمه کړي مګر د کار په وخت کې دی دهغه جل جلاله کبریایی له یاده وباسي او د خپلو ذاتي غوښتنو او ګټو مطابق دې پرېکړې وکړي، که یو څوک د ورځې زر کرته الله، الله ووایي او ژبه یې شپه ورځ دهغه جل جلاله په یاد لمده وي خو چې دهغه عملي ژوند د الله تعالی او دهغه رسول محمد صلی الله علیه وسلم د لارښوونو په مطابق نه وي دهغه دا ذکر هېڅ ګټه نه لري ځکه چې هغه د الله ذکر او دهغه یادول په ټولنه کې نه دی تطبیق کړي ځکه چې هغه پخپل په دې ذکر کې د الله تعالی د اقتدار، لویې او برترې اقرار خو کوي مګر په عملي ژوند کې صفر دی، هغه د زړه له کومې د الله تعالی حقیقي اقتدار، لویې، حاکمیت او قانون نه دی منلې او د هغه عظمت د زړه تل ته یې نه دی کوز شوې. له بده مرغه زموږ زیاتره مسلمانان د عبادت اصلي روح ته نه ګوري، روژه همدومره کافي ګڼي چې د سهار له صبح صادق نه وړاندې تر ماښامه پورې صرف له خوراک څښاک نه ډډه وکړي او نور چې څه یې زړه غواړي ښه په داډه زړه ترسره کړي، بده لا دا چې دغه روژه تیان دا عقیده هم لري چې که یو مؤمن څومره ګناهونه وکړي روژه دهغوی ددغو ټولو ګناهونو کفاره ګرځي، په داسې حال کې چې حقیقت ددې برعکس دی، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث شریف مفهوم دی چې کوم روژه دار له نورو ګناهونو څخه ځان ونه ساتي هغه پخپل ځان له خوراک څښاک بندولو پرته بل هېڅ ګټه نه ده کړې. (مشکواة)

په مسلم او نسائی کې روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې له تاسو نه روژه دار وي نو هغه دې نه چټیات وایي نه دې چیغې وهي او نه دې جهل کوي، که کوم کس ورته بښکنځلی وکړي او یا ورسره جنګ وکړي نو هغه ته دې دوه کرته ووایي چې زما روژه ده، ددې ټولو سره سره چې زیاتره مسلمانان په صحیح معنی د روژو اهتمام نه کوي او له هر ډول ګناهونو څخه ځانونه نه ساتي. بیا هم ځینې علماء او واعظان دوی ته اطمینان ورکوي چې د روژو په نیولو سره ستاسې مخکینۍ ټول ګناهونه بخښل کېږي، په داسې حال کې چې په دې اړه په مسلم شریف کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک حدیث دی چې: د پنځو لمونځونو او د یوې جمعې لمونځ نه تر بلې جمعې لمونځ پورې او د یوه کال له روژې نه تر بل کال روژې پورې ترمنځ چې څومره ګناهونه شوي وي هغه بخښل کېږي خو هله چې له غټو ګناهونو څخه یې پرهیز کړی وي.

له پورتني حدیث نه په څرګندو ټکو کې دا ترلاسه شو چې کوم سړی په صحیح معنی روژه ونیسي او دهغه ټول ارکان او شرایط پرځای کړي دهغه صرف واړه ګناهونه بخښل کېږي نه کبیره، خو که چا د روژې ټول ارکان او اداب نه وي پوره کړي او د روژې ترڅنګ له نورو ګناهونو څخه لاس نه وي اخیستې دهغه خو واړه ګناهونه هم نه بخښل کېږي. ځکه چې د ګناهونو د بخښل کېدو لپاره رسول الله صلي الله علیه وسلم (من صام رمضان ایماناً واحتساباً) الفاظ استعمال کړي دي یعنې دا چې روژه یې د ایمان او ثواب په خاطر نیولې وي، د ایمان اصل غوښتنه خو داده چې مسلمان له ګناهونو څخه ډډه وکړي نه دا چې د روژې ترڅنګ دې ګناهونه هم وکړي، داسې روژه نیول، الهي ارشاد: (لعلکم تتقون) له روحیې سره په ټکر کې ده، الله تعالی روژه دې لپاره فرض کړې چې په خلکو کې د ګناهونو څخه د پرهیز عنصر قوي شي نه دا چې ګناهونو ته اړ ښه ورکړی شي.

اوس اړ راځو پر خپلو روژو نظر واچوو او فکر وربانډې وکړو چې آیا زموږ روژې واقعاً په هغه معیار او تول برابری دي چې اصل روح یعنې تقوی تری ترلاسه کړو او که نه؟

که برابر وي نو فبها او که برابرې نه وي نو په هغه معیار او تول یې برابرې کړو چې لوی الله تعالی دهغه اصلي هدف او مقصد تقوی ترلاسه کول او خپله ټولنه له ګناهونو، جنګونو، ظلمونو، رشوتونو او ټولو بدبختیو څخه خلاصول ښودلي.

مصر و کودتای دموکراسی

...جنون آمیز و خشم آلود آنرا بنام شکست اسلام سیاسی در برابر سیکولریزم اعلان نمود، که این خود دشمنی آشکار بعثیان عرب را نسبت به یک نـظام منتخب اسـلامی نشان میدهد.

محمد مرسی که در یک مکتب سیاسی اسلامی و مطابق به ارشادات الهی و سنت پیامبر و روش صحابه تربیت یافته بر مبنای همین مکتب بزرگ میخواست که نظام دموکراتیک نوین را به جهانیان عرضه نماید مگر دشمنان قسم خورده اسلام نگذاشتند و نمیگذارند که ملت های مسلمان صاحب شوکت و جلال و برخوردار از مزایایی تمدن و انکشافات تکنالوژی جدید، خودکفا و قادر به دفاع از سرزمین های شان شوند، رئیس جمهور منتخب مصر را مجال ندادند تا برای وطن و مردمش خدمت نماید.

بلی! این نتیجه خواست دموکراسی غربی در جهان است، دموکراسی که حکومت مردم بالای مردم را از طریق مردم میخواهد و طرفدار انتخابات شفاف، عادلانه میباشد، دیدیم که این دموکراسی در مصر به رسوایی کشانده شد و خود مخالف نظام عادلانه و حکومت مردم بالای مردم گردید و کشورهائیکه حامی دموکراسی خود را در جهان میداند، عکس العمل با این اقدام کودتایی که ریشه های دموکراسی را از خاک بیرون آورد نشان ندادند.

آیا این دموکراسی است؟ دولتی را که با اراده و خواست مردم بقدرت میرسد، بواسطه کودتایی نظامی سقوط داد و نظام غیر عادلانه و استکباری را که سالها به سرنوشت مردم بیدفاع و مسلمان بازی نموده دوباره بقدرت رساند، اصلاً این دموکراسی توطئه ها و ابزار کهنه سیادت استعماری چیزی دیگری نیست، ما این نوع دموکراسی را نسبت به اسلام در تضاد عمیق میدانیم، اسلام در هیچ جایی و هیچ گاهی حکومت مشروع مردمی را محکوم ننموده، و همیشه از نظام های مردم سالار و انتخابی دفاع نموده و آنرا بهترین نوع دولت و حکومت ها میداند، مصریها امروز نسبت به سرنوشت آینده شان در تشویش و اضطراب اند و از اعاده نظام استکباری بازماندگان مبارک رنج میبرند.

از رکود اقتصادی که هر روز ملت مصر را تهدید میکند در هراس اند و بیشتر از این جنگ داخلی فرسایشی که سائر ملت های مسلمان درگیر آن میباشد، نگران اند، بهاریکه از تونش شروع و سرزمین مصر را دربرگرفت و فعلا سوریه هم به آن دست و گریبان است، فقط توطئه کشورهای استعماری غرب و منطقه اند که میخواهند با استفاده از استقرار نظام دموکراسی با شورش مردم و کودتاهای نظامی تمام کشورهای اسلامی را نارام و نفاق و تفرقه های قومی، سمتی، حزبی و منطقوی را دامن بزنند، تا از این طریق بتوانند به اهداف شوم و فاسد شان نایل آیند.

درپایان اسرائیل را بزرگترین قدرت اقتصادی، سیاسی و اتمی در منطقه بسازند که این معما طوریکه می بینیم در کشور مصر تحقق یافته است، مصر بزرگ را به بهانه کمک ها و استقرار دموکراسی به تباهی میکشانند، قدرت نظامی و اقتصادی آنرا از هم متلاشی میسازند، تا دیگر کشورهای عرب نتواند به گوشه های سینا، غزه و رود اردن و سایر مناطق اشغالی را که فعلاً درآن شهرکهای یهودی نشین اعمار میگردد دسترسی پیدا نموده وممانعت ایجاد نمایند.

بلی! استعمار و استعمارگران و نوکران استعمار میتوانند با استفاده از مقوله (تفرقه بینداز حکومت کن) بهاری بسازند، نقشه (راه) ترتیب کنند و بنام دموکراسی نظامی بسازند، که کشورهای اسلامی را ضعیف، داخل جنگ دوامدار داخلی ساخته و تمام منابع طبیعی و زیرزمینی شان را غارت و ملت هایشان را محتاج و تروریزم بین المللی را که تا حال تعریف نگردیده است بیشتر تشویق نمایند، نتیجه این پلانها جز جنگ، غارت، ویرانی، مقاومتها چیز دیگری را بنام صلح در قبال نخواهد داشت.

جنبش اخوان المسلمین و هواداران مرسی با دادن شعارهای (یسقط، یسقط سینوسی) و برگشت محمد مرسی به کاخ ریاست جمهوری قربانیهای را هر روز متحمل می شوند، و اعلان میدارند، اگر مرسی به کاخ ریاست جمهوری برنگردد به اعتراضـات میلیونی شـان ادامه میدهند.

تا حال در این رویدادها و مقابله ارتش مصر با هواداران محمد مرسی بیشتر از پنجاه نفر کشته و سه صد زخمی بجا گذاشته است، مگر تظاهرات کماکمان در میدان تحریر و سایر شهرها ادامه دارد، اگر این مقاومت ها به شکست مواجه شود، نه تنها آینده جنبش اخوان المسلمین مصر تاریک بنظر میرسد، جنبش های دیگری که در سرزمین های مختلف اسلامی دیده می شود بخطر جدی مواجه خواهد شد، در مقابل دموکراسی و حامیان آن که شعارهای دموکراسی دروغین را سرمیدهند، بی بهره از این تحولات و تموجات مردمی و تحرکات نخواهد ماند، و بلای این آتش بزرگ دامنگیر نه تنها کشورهای اسلامی بلکه بر تمام کشورها و ملت ها اثرات ناگوار و زیان باری جبران ناپذیر خواهد داشت، در آنصورت مهار این حادثات خونین ناممکن و این بلا سراسر کره زمین را تهدید خواهد نمود.

توطئه ای بزرگ علیه یک ملت

نصیر احمد نویدی

تا نوشتن این سطور چند روز از کودتای نظامی جنرالان اردوی مصر علیه حکومت منتخب رئیس جمهورمحمد مرسی می گذرد. احرار جهان اعم ازحکومت ها، احزاب سازمان های بین المللی حمایت شان را ازمحمد مرسی اعلان نموده وبه تقبیح کودتای شوم ۱۳ سرطان پرداخته اند. بعد ازموقف شجاعانه ترکیه وبرخی دول اسلامی وغیراسلامی، اتحادیهء دول افریقایی (مرکب از ۵۴ کشور) دراعتراض به کودتای سیاه ۴ جولای، عضویت مصررا درآن اتحادیه تازمانی معطل قرارداد که رئیس جمهورمحمد مرسی دوباره به اریکه قدرت نشانده شده وقانون اساسی کشوربرحال گردد. اما حکومت های استبدادی ومزدور، سازمان ها وارگان های بین المللی غربی صریحاً ویا تلویحاً وبشکل بی شرمانه از تأئید کودتا واعلان همکاری با ادارهء بعد ازکودتا سخن گفته اند. جالب تراینکه بشارالأسد قاتل مردم مسلمان سوریه نیزبه عزل اجباری محمد مرسی جشن گرفته وآنرا بزعم خودش بعنوان شکست اسلام سیاسی تعبیرنموده است. درین میان امریکا و دول اروپایی نیزطبق معمول، با دیپلوماسی منافقانه ازاصل قضیه چشم پوشی نموده و با توصیات مفت شان دررابطه به آیندهء مصر، درچشم مردم خاک می ریزند.

واما ملتهای مسلمان ازاندونیزیا تا اردن وازترکیه تا افغانستان ضمن اجتماعات وتظاهرات گسترده مردمی، حمایت وهم بستگی شان را با محمد مرسی اعلان نموده خواستاربرگشت عاجل وی به صحنهء قدرت گردیدند. خوشبختانه مردم افغانستان نیز روز جمعه ۱۵ سرطان، طی گردهم آیی هایی اعتراض آمیز وتظاهرات خیابانی تحت رهنمایی نهاد جوانان مسلمان (نجم) درکابل، جلال آباد، هرات، کندز وغیره شهرها، نفرت وانزجارشان را برضد اقدامات ظالمانه اردوی مصر ابراز داشته و همبستگی شان را با مردم مصر ورئیس جمهورمنتخب محمد مرسی اعلان داشتند.

واما درمصر مردم هنوزهم درقاهره وشهرهای مختلف درصحنه حضوردارند وبا وصف محاصره، اردو وحملات اوباشان وافراد پولیس بر متظاهرین، به تعداد مشارکین تظاهرات مسالمت آمیزمردمی لحظه به لحظه افزوده می شود. با وصف دوام سلسلهء دست گیری قیادت های اخوان المسلمین، حرکت نیز درادامهء سیرخود به منظور برقراری حیثیت محمد مرسی بعنوان رئیس جمهورمملکت وبرقراری قانون اساسی وارگان های منتخب بحال خود شان، مصمم است.

حوادث هنوزدرحال تکوین است. وهیچ کسی نمی تواند دقیقاً پیش بینی نماید که آیا خواست مردم درجهت اعادهء رئیس جمهورشان تحقق خواهد یافت ویا هم مصردراثرلجاجت اردو ونیروهای سیکولاربه طرف یک بحران عمیق کشانیده خواهد شد. اگرروندامور به خواست کودتا چیان باشد، درقدم نخست قیام های ملیونی ایکه درتأئید محمد مرسی ودفاع ازمشروعیت نظام منتخب ازقبل درصحنه حضوردارد با زورسرنیزه سرکوب خواهد گردید. درقدم دوم وهمزمان با آن مبارزین، دعوت گران ورهبران واقعی مردم به زندانها افگنده شده وبعد به تهمت های واهی چون خیانت به وطن وغیره به حبس های مختلف محکوم خواهند گردید. ودرقدم چهارم شرائط قسمی بوجود آورده خواهد شد که تحت پردهء انتخابات ازراه تزویر وتقلب، نظام سابق با یک روی کش جدید درصحنه حاضرگردیده ، چورو چپاول دارایی های عامه وسودا برسرنوشت ملت با دشمنان ایشان ازسرگرفته خواهد شد. آزادیهای مردم سلب وحقوق ایشان ضایع خواهد گردید.

(ویمکرون ویمکرالله والله خیرالماکرین)

واما خواست وارادهء پروردگاربالاترازخواست وارادهء طاقت های بشری است. وجامعهء مصرهم دیگر آن جامعهء مطیع وفرمان برداردیروزی نیست. همانطوریکه دوسال قبل قیام های "بهارعرب" برخلاف توقع کوردلان ومستبدان توسط مردمان تهیدست ولی با ایمان به کامیابی رسید، إن شاء الله تعالی که درین شرائط دشوارنیزالله جل جلاله مسیرحوادث را درسمت خلاف خواسته ها نیروهای سیکولارمصر وحامیان داخلی وبیرونی آنها به پیش برده توطئه های دشمنان آزادی وشرف مصررا به خاک یکسان سازد. حامیان منطقوی وجهانی کودتا باید بدانند که عصردیکتاتوریها دیگر پایان یافته وزود است که خون برشمشر، حق برباطل وعدالت برظلم درتمام منطقه پیروزی یابد- وما ذالک علی الله بعزیز.

ده رنگ مرتاسي غوره امت گرخولي پاست چي پر خلکو گراهان اوسي

شهادت ورځپاڼه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير: عبدالخليل "خليل"

د اړيکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چي د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چي د ليکني اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوي مطالب نه مستردېږي. يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی

ډيزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مېنه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

د سولې په خبرو کې د چټک ...

خانګړي استازي د سنا په غونډه کې وويل، دی فکر نه کوي چي په افغانستان کې د سولې خبرې به په راتلونکي کال کې پيل شي.

جېمز دابنز د سنا د بهرنيو اړيکو استماعيه غونډې ته وويل، امريکا غواړي چي د وسله والو طالبانو او د سولې د عالي شورا ترمنځ د سولې خبرې اترې پيل شي.

دابنز زياته کړه، د امريکا هدف دا نه دی چي د سولې خبرې ترسره کړي بلکې هدف دا دی چي په افغانستان کې د سولې له بهير سره مرسته وکړي او دا بهير بايد د ياغيانو، حکومت او د سولې د عالي شورا ترمينځ ترسره شي. خو ده دا يادونه هم وکړه چي دی دا تمه نلري چي دا خبرې به چټک پرمختګ وکړي.

دابنز وويل دی فکر کوي چي خبرې اترې ښايي په راتلونکي کال کې له سره پيل نشي، خو ده دا ټينګار هم وکړ چي د سولې هڅې به په افغانستان کې د دوی د نورو لومړيتوبونو مخه ونه نيسي.

په قطر کې د طالبانو د دفتر د پرانيستو او موقتا بندېدو ترمينځ پېښو د کابل او واشنګټن ترمينځ اړيکي دومره ترينګلې کړل چي په هېواد کې دننه او بهر د سولې د خبرو د پيل هيلې ورسره نهيلې شوي.

تېره اونۍ د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې خانګړي استازي وويل چي د افغانستان د سولې هڅې ښايي تر ۲۰۱۵ کاله نتيجه ورنکړي.

ويګاوداس اوشاخکاس Vygaudas Usackas د تېرې چارشنبې په ورځ د ژنيو د امنيتي پاليسي په مرکز کې په يوه غونډه کې د وينا پرمهال که څه هم وويل چي اروپايي ټولنه به د افغانانو په مشرۍ د پخلاينې د پروسې ملاتړ وکړي خو زياته يې کړه چي که حقايقو ته ګټه وشي نو تر ۲۰۱۵ کاله د سولې په برخه کې د کوم جوړجاړي تمه نلري. خو د سولې د عالي شورا چارواکي چي د سولې د رواڼو هڅو مسووليت لري دا انديښني بېځايه بولي او وايي چي له دي ډول خنډونو سره سره به دوی خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

په قطر کې د طالبانو دفتر د جون په ۱۸ نېټه په دوحه کې پرانيستل شو او له دې سره سم په افغانستان کې د ملي پخلاينې هيلې وپاربدې خو دا هيلې ډېرژر وروسته له دې چي افغان حکومت د دې دفتر د پرانيستو پر څرنګوالي انتقاد وکړ، نهيلي شوي.

طالبانو د خپل دفتر د پرانيستو په مراسمو کې د طالبانو بيرغ اوچت کړ او پر لوحه يې د اسلامي امارت عبارت وليکه. د دې موضوع په وړاندې افغان حکومت جدي عکس العمل وښود او امريکا ته يې خبرداری ورکړ چي که طالبان د سولې له شورا سره خبرو اترو ته کېني نو له امريکا سره د امنيتي تړون په اړه خبرې وځنډوي.

اوس په داسې حال کې چي طالبانو په قطر کې خپل دفتر بند کړی، رويټرز خبري آژانس د لويديځو چارواکو په حواله ويلي دي چي د قطر د دفتر د پرانيستو پر څرنګوالي له اختلافونو سره سره به د سولې خبرې بيا پيل شي خو دا چي څه وخت تراوسه معلومه نه ده.

تا مرسی بقدرت برنگردد...

شرکت در کابینه جدید رد کرده و گفته است، تظاهرات را که آنها بروز جمعه راه اندازی کرده اند، در مخالفت به کودتای خونین نظامی میاشد.

در عین زمان یک مقام امریکایی گفته است که ایالات متحده امریکا پلان تحویل دادن چهار طیاره جنگی F-16 را به مصر عملی خواهد کرد. همین مقام امریکایی که از گفتن نامش خود داری نموده به آژانس فرانس پرس گفته است، تصمیم در مورد به تعویق انداختن زمان تحویل دهی طیارات و یا قطع سایر کمک های امنیتی به مصر اتخاذ نشده است، حتی که واشنگتن قبلاً گفته بود همه کمک به مصر را ارزیابی خواهد کرد.

یک سخنگوی وزارت خارجه امریکا روز پنجشنبه گفت، جریان کمک های پلان شده قبلی به مصر ادامه خواهد یافت و وازت دفاع امریکا گفت، به حفظ روابط دراز مدت نظامی با مصر متعهد است و ایالات متحده می خواهد ببیند که حکومت دموکراتیک ملکی هر چه زودتر به مصر برگردد.

این در حالیست که پولیس مصر یک تعداد از رهبران بلند پایه اخوان المسلمین را بازداشت نموده است. بدر عبدالعاطی سخنگوی وزارت خارجه مصر بروز چهار شنبه به خبر نگاران گفت، مرسی رییس جمهور برکنار شده در یک جای مصئون نگهداری می شود وتا هنوز بکدام چیزی متهم نمی باشد.

اما منابع نظامی و قضایی مصر گفتند، عاقبت مرسی به اتهام روبرو خواهد شد. مارتن نیسرکی سخنگوی بانکی مون به خبر نگاران گفت، سرمنشی ملل متحد راجع به توقیف محمد مرسی و سایر اعضای بلند پایه اخوان المسلمین ابراز نگرانی نموده است.

تصمیم خروج و باقی ماندن ...

در قطر، گفت و گو روی سند امنیتی با امریکا را به حالت تعلیق در آورده است.

رییس جمهور گفته بود، که در قول و عملکرد امریکا تضاد وجود دارد.

به گفتهٔ سناتور رابرت، اگر حامد کرزی با امریکا روابط دراز مدت می خواهد، باید با شرایط مورد قبول وارد گفتگو شود.

وی می افزاید: "اگر تلاش ها روی سند امنیتی به ناکامی انجامد، از جانب امریکا نخواهد بود."

سناتور باب کراکر که در این اواخر به کابل و اسلام آباد سفر نموده نیز می گوید: "کرزی یکی از روسای جمهور نا امید کننده در جهان است که ما با او روابط دراز مدت داشته ایم."

وی در حالی که می گوید، دشوار است کسی بفهمد که حامد کرزی چه میخواهد، می افزاید: "کرزی فکر می کند که امریکا با پاکستان دوست شده و میخواهد که افغانستان را بی ثبات سازد."

حکومت افغانستان تاکنون در مورد اظهارات این سناتوران واکنش نشان نداده است.

امریکا یک مرکز نظامی را که به...

مرکز، قبل از استفاده از بین برده شود.

این اداره که تفتیش کارهای بازسازی امریکا را در افغانستان به عهده دارد، در یک نامه به چک هیگل وزیر دفاع امریکا نوشته که درحالی بالای این مرکز حدود ۳۴ میلون دالر مصرف شده، که از آن هیچ استفاده صورت نگرفته است.

جان سوپکو رییس این اداره، در پهلوی انتقاد شدید از این اقدام گفته است که پول مالیه دهند گان امریکا، بالای پروژه ای مصرف شده که حالا از آن استفاده نمی توانند.

منبع افزوده است: "این مرکز نظامی برای کندکی ساخته شده بود که به افغانستان اعزام نگردید، گرچه در این اواخر فیصلهٔ اعمار نکردن این مرکز نظامی، صورت گرفته بود؛ اما بازهم کارهای آن دوام یافت و حالا تکمیل شده است."

جان سوپکو افزوده است که اگر این مرکز نظامی مورد استفاده قرار نگیرد، امکان دارد که به حکومت افغانستان سپرده شود.

واشنگتن پست، به نقل از جنرال امریکایی نوشته است که کارهای اعمار این مرکز نظامی، در سال ۲۰۰۹ میلادی، آغاز شده و قراداد آن نیز به یک شرکت خصوصی بریتانوی داده شده بود.

جان سوپکو رییس ادارهٔ مفتش خاص امریکا در این نامه مینویسد: "این یک تعمیر زیبا و عصری دو منزله میاشد که تاکنون، همچو تعمیر زیبا را در افغانستان ندیده ام."

این جنرال امریکایی، به واشنگتن پست گفته است که این مرکز نظامی، بدون اینکه مورد استفاده قرار گیرد، ازبین برده خواهد شد.

قابل یادآوری است که قبل از این نیز امریکا، به ادارات دولتی و نیروهای افغان، خبر از اعمار همچو تعمیرات داده بود، که هیچ تعمیری در آنجا موجودیت نداشت.

د ملي شورا څيني غړي د خپل ...

چي وکيلان بايد پارلماني مصونيت ونه لري.

ملي شورا به هېواد کې د قانون جوړولو تر ټولو معتبر ارګان بلل کېږي خو د دې شورا پر څينو غړو هم د غير قانوني اعمالو د ترسره کېدو ادعاوې شوي دي.

د مدني ټولنې څيني فعالان او د حقوقي چارو کارپوهان وايي، چي په وروستيو کې د ملي شورا يو شمېر غړيو د خپلو شخصي اهدافو لپاره قانون تر پښو لاندې کړی دی.

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

کرېمي: زه د افغانستان هر اينچ نه شم پوښلی

د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په هغو ستونزو يوه ليکنه خپره کړې ده چي؛ د بهرنيو ځواکونو له وتلو وروسته ورسره د ځينو سيمو په ساتلو کې افغان امنيتي ځواکونه مخ دي.

ورځپاڼه د افغانستان د وسلوالو ځواکونو د لوی درستيز جنرال شيرمحمد کريمي له خولې وايي، زه د دې هېواد هر اينچ نه شم پوښلی ځکه افغان اردو د شمېر له پلوه کافي نه ده.

ورځپاڼه د بهرنيو ځواکونو د شمېر په کمېدو او د افغان سرتېرو د مرګ ژوبلې زياتېدو ته په اشارې وايي:

تېر کال په افغانستان کې د امريکا په مشرۍ د ناټو ځواکونو اته سوه پوځي اډې لرلې چي؛ اوس دا شمېر سلو ته راکم شوی دی او تر فبرورۍ پورې به پنځوسو ته راکم شي.

د واشنګټن پوسټ د ليکنې ليکوال وايي، ګڼي له دې پوځي اډو څخه چي بهرني سرتېري ترې وتلي دي، افغان ځواکونو ته نه دي سپارل شوي.

ورځپاڼه د يو شمېر لوړ پوړ امريکايي او افغان قومندانانو له خولې وايي، په ګڼو سيمو کې افغان ځواکونه له خپلو اډو څخه لرې په عملياتو بسې تللی دي او د طالبانو مرکزونه يې له منځه وړي، خو کله چي دا عمليات پای ته رسيدلي حکومت نه دی توانېدلی چي دا مهمې سيمې وساتي.

واشنګټن پوسټ په افغانستان کې د ناټو عمومي قومندان جنرال جوزيف ډانفورډ له خولې ويلي، په کومو ځايونو کې چي د مشرتابه ستونزه وي هلته په امنيت ساتنه کې خاليګاوې رامنځ ته کېږي.

د نومړي په وينا په کومو ځايونو کې چي افغان ځواکونه له وسلوالو سيمه پاکه کړې هلته به دې پسې دويم او دريم ګام اخيستل ضرور دي.

ورځپاڼه وايي، دا مهال هره مياشت د څلورو سوو په شا اوخوا کې پوليس او سرتېري وژل کېږي، او د مخالف وسلوال هم تر هغې ډېر فعال دي چي څېنو يې اټکل کاوه.

ورځپاڼه زياتوي سره له دې چي افغان ځواکونو ډېره بهترې، تعهد او وړتيا ښودلې ده خو بيا هم د دې هېواد نوي ځواکونه په ځينو برخو کې د هغو خاليګاوو په ډکولو کې پاتې راغلي چي د بهرنيو ځواکونو له وتلو وروسته رامنځ ته شوي.

د امريکايي سرتېرو په کمېدو سره ورځپاڼې افغان ځواکونو ته د مرستې د سرچينو د کمېدو يادونه هم کړې ده او وايي، اوس کله ناکله دوی هغه منابع نه لري چي مخکې له دې يې کارولې، لکه په وخت طبي مرستې او نږدې هوايي ملاتړ.

د افغانستان د وسلوالو ځواکونو د لوی درستيز ښاغلي کريمي له خولې واشنګټن پوسټ ليکي، د سرتېرو د موړال په اړه انديښنه لري ځکه تلفات زياتېږي او د هوا له لارې د ټپيانو د ايستلو ډلې کله ناکله په وخت نه رسيږي.

امريکايي قومندانان وايي، اوس ورته دا ستونزمنه ده چي په وخت افغان ځواکونو ته ملاتړ برابر کړي، دوی يې سبب د افغان او امريکايي ځواکونو ترمنځ د تفاهم کموالي ګڼي، ځکه چي دا دواړه خواوې اوس په ګډو ډلو کې کار نه کوي.

د لاس انجلس ټايمز ورځپاڼې هم د بهرنيو ځواکونو له وتلو وروسته د افغانستان د ملي اردو په وړتياوو او ستونزو ليکنه کړې.

ورځپاڼه په ميدان وردګو کې د افغان ملي اردو د يو پوځي کنډک کيسه کوي چي قومنده يې د ډګروال حميدالله کوهدامني په غاړه ده.

د لاس انجلس ټايمز په وينا د امريکا کانګرس د افغانستان د اردو د جوړوني او تجهيز لپاره يوپنځوس ملیارده ډالر تصويب کړي دي، خو ډګروال حميدالله لا هم نه شي کولی چي خپل خراب شوي هموي پوځي موټر ترميم کړي.

ورځپاڼه وايي د امريکا متحدو ايالتونو د حميدالله کنډک ته چي په ميدان وردګو کې يې اړولې دي ۴۶ هموي پوځي ګاډي ورکړي دي خو دا مهال له دې څخه يوازې شپاړس يې فعال دي.

دوي وايي، چي دوي تر ډېره له خپل پارلماني مصونيت څخه په ګټه اخيستنې په غيرقانوني کارونو لاس پورې کړی دی.

د افغانستان د بشري حقونو او چاپېريال ساتنې سازمان رييس عبدالرحمن هوتکي له ازادي راډيو سره په مرکه کې دې مسالې ته اشاره وکړه او وېې ويل چي د ملي شورا څيني غړي د اساسي قانون مادې په خپله ګټه تعريفوي:

"په تاسف سره بايد ووايم چي؛ د پارلمان څيني غړي د اساسي قانون د ۱۰۱ او ۱۰۲ مادې څخه په خپله ګټه سوی استفاده کوي.

يعني کله چي ۱۰۱ او ۱۰۲ ماده په نظر کې ونيسو، هلته وضاحت لري چي، د جرم په مقابل کې د افغانستان تبعه حقوقي مصونيت نشي درلودلی."

ويل کېږي، چي په غير قانوني اعمالو يو شمېر تورن وکيلان له خپل پارلماني مصونيت څخه په ګټه اخيستنې عدلي او قضايي مراجعو ته نه حاضرېږي.

په وروستيو کې اوه تنه وکيلان په غير قانوني اعمالو او فساد تورن شول، چي له هغې ډلې يوازې دوه تنه يې څارنوالۍ ته حاضر شول خو پاته نور يې له خپل پارلماني مصونيت څخه په استفادې عدلي او قضايي ارګانونو ته ندي حاضر شوي.

د افغانستان د مالي وزير څه موده مخکې شپږ تنه وکيلان هر يو، حاجي محمد ظاهر قدير، محمد نعيم لالی حميدزی، محمد عارف رحماني، سميع الله صميم، محمد عظيم محسني او محمود سليمان خيل په فساد او غير قانوني کارونو تورن کړل.

د دې تورنو وکيلانو دوسيې اوس په عدلي او قضايي ارګانونو کې تر څېړنې لاندې دي.

په تازه پېښه کې، د کابل امنيتي مسولانو د ولسي جرګې يو غړی الله ګل مجاهد په پلان شويو جرمونو او له مجرمينو څخه په ملاتړ تورن کړ، خو نوموړي پر څان لګېدلي تورونه ردوي او د بې ګناهي ادعا کوي:

"دوی وايي چي؛ حاجي الله ګل قاتل دی، هر څوک چي ادعا لري سر له سبا څخه دې راشي لويې څارنوالۍ ته او ماته دې وښيي چي ما څوک وژلي دي.

د جنرال ظاهر خبرې زه بلکل ردوم. زه نه سياسي دوسيه لرم او نه هم حقوقي. دا د هغوي خبره وه."

د اساسي قانون د ۱۰۱ مادې له مخې، وکيل بايد پارلماني مصونيت ولري څو وکولای شي د خلکو ستونزې د ملي شورا غونډې ته ورسوي او د هغې لپاره د حل لاره ولټوي.

د همدې مادې پر اساس د ملي شورا غړي د رايې د حق، نظر ورکولو او تحليل په اړه مصونيت لري، خو د حقوقي چارو يو کارپوه عبدالستار سعادت وايي چي؛ څيني وکيلان هڅه کوي د پارلماني مصونيت له نوم څخه ګټه واخلي او د قانون پر وړاندې معاف وګڼل شي:

"په خپله مصونيت د وکيل لپاره يوازې د توقيف په برخه کې دی او مصونيت د معافيت معنی نه لري. خو څه مشکل چي موږ يې لرو هغه دا دی چي، وکيلان د مصونيت او معافيت مساله سره ګډوي، يعني يو ډول ځان ته معافيت ورکوي."

د ښاغلي سعادت په خبره، څيني وکيلان له غير قانوني لارو پارلمان ته راغلي او همدا کسان قانون تر پښو لاندې کوي.

اخوا د ولسي جرګې اداري پلاوی د وکيلانو د پارلماني مصونيت په اړه وايي، هر کله چي د وکيل عدلي تعقيب د هغه د توقيف سبب شي، په هغه صورت کې بايد د مجلس رای واخيستل شي.

د ولسي جرګې دويم مرستيال محمد صالح سلجوقي وايي چي؛ دوي په هيڅ صورت د يوه وکيل د عدلي او قضايي تعقيب مخنيوی نه کوي:

"د وکيلانو قضايي مصونيت، سياسي مصونيت دی. هر کله چي د ملي شورا يو غړی په يو جرم تورن کېږي، يوازې څارنوالي او يا هم عدلي او قضايي ارګانونه د تورن وکيل مربوطه مجلس خبروي او د عدلي او قضايي ارګانونو لخوا تعقيبېږي.

ملاله يوسفزۍ به د ملګرو ملتونو ...

چي؛ د انجونو د تعليم او پرمختګ د دغې فعالې غږ د تل لپاره چپ کړي.

ډاکټرانو د ملالې په کوپړۍ کې چي ګولۍ په کې لګېدلې وه، د ټيټانيوم پلېټ کېښود، خو د نوموړې د اورېدو حس ته سخت زيان رسيدلی دی.

ملاله د ټايم مجلې له خوا په نړۍ کې د ۲۰۱۳م کال تر ټولو اغېزناکه جنۍ پېژندل شوې او د ژوند د داستان د ليکلو لپاره يې ورته د ۳ ميلونو ډالرو وړانديز کړی دی.

د برېتانيا پخوانی صدراعظم ګوردن براون چي دا مهال د تعليم په چارو کې د ملګرو ملتونو استازی دی او د ملالې نړيواله ورځ يې تنظيم کړې، وايي:

"دا ځوانه او تنکۍ جنۍ چي سخته ټپي شوې وه، نه يوازې د انجونو د تعليم د حق لپاره په يوه قوي سمبول بدله شوې، بلکه دهغې غوښتنې لپاره هم يو قوي سمبول دی چي موږ يې بايد په اړه عاجل اقدام وکړو."

براوون دا هم وويل، له هيڅ ديني افراطيت سره چي وايي، انجونې دې د لسي ټلګي په عمر ښوونځي ته لاړې نشي، جوړجاړی بايد ونشي.

ملالې يوسفزۍ له دې مخکې د ملګرو ملتونو له عمومي منشي بان کيمون سره په يوې مکالمې کې د خپلې مبارزې موخه يا هدف داسې بيان کړی و. تمه ده چي؛ ملاله به د ملګرو ملتونو د ځوانانو عمومي اسمبلۍ کې وينا وکړي، د ملګرو ملتونو عمومي منشي او د نړۍ نور مشران به وهڅوي چي د انجونو د لوړو زده کړو په اړه خپلې ژمنې عملي کړي.

نوموړې به دغه راز هغه غوښتن ليک چې؛ شاوخوا درې لکه او ديرش زرو کسانو لاسليک کړی، هم عمومي منشي ته وړاندې کړي.

په غوښتن ليک کې د ملګرو ملتونو په ۱۹۳ غړيو هېوادونو غږ شوی چي د تعليم هدفونو ته درسيدو په مقصد دې له ښوونګو، ښوونځيو او کتابونو لپاره مالي مرستې وکړي.

د ملالې دوې ملګرې شازيه او کاينات هم د وسله والو په حمله کې ټپي شوې وې او له درملنې وروسته خپل تعليم او د انجونو د زده کړې د حق مبارزې ته دوام ورکوي.

کاينات برېتانيا ته د تعليم په مقصد بدل شوې او غواړي چي د ملالې په څنګ کې خپلې مبارزې ته دوام ورکړي. کاينات په نورو انجونو غږ کړی چي؛ په کورونو کې دې نه کېني او تعليم دې وکړي.

دا مهال په سوات کې د بل هر وخت په پرتله زيات شمېر انجونې ښوونځيو ته ځي، خو د ملګرو ملتونو د اټکل له مخې، د ښوونځي په عمر شاوخوا ۵۷ ميلونه کوچنيان له تعليم نه محروم دي چي نيمايي يې د سوريې په څېر په هغو هېوادو کې دي چي شخړې او جګړې په کې رواني دي.